د الله څخه وېره کوه هر چېرې چې يې، او د بد عمل پسې ښه عمل کوه چې له منځه يې وړي، او له خلکو سره په ښه اخلاقو چلند کوه

له ابو ذر، جُندب بن جُنادة، او ابو عبدالرحمن، معاذ بن جبل رضی الله عنهما نه روایت دی، چې د الله رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «د الله څخه وېره کوه هر چېرې چې يې، او د بد عمل پسې ښه عمل کوه چې له منځه يې وړي، او له خلکو سره په ښه اخلاقو چلند کوه».

[ترمذي ويلي: حسن حديث دی] [الترمذي روایت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم په دې شيانو امر کوي: لومړی: د الله تعالی څخه وېره، يعنې د واجب کارونو ترسره کول او له حرامو ځان ساتل، په هر ځای، هر وخت او هر حال کې چې په پټ وي که ښکاره، که روغ وي يا په ازمېښت کې، او داسې نور. دويم: که کومه ګناه درڅخه وشوه، نو وروسته پسې نيکي وکړه — لکه لمونځ، صدقه، نيکي، خپلوي پالنه، توبه او داسې نور — نو دا ګناه له منځه وړي. دريېم: له خلکو سره په ښه اخلاقو چلند کوه، لکه پر وړاندې يې موسکا کول، مهرباني او نرمي ښودل، نېکي کول او د زيان رسولو مخنيوی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4302